مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۰۵** (از ۲۵ دلو الی ۲ حوت ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

ACKU

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**قمار در عرصۀ سیاست خارجی!**

- رئیس جمهور غنی و بازنگری در سیاست خارجی ........ ۴
- دیپلوماسی پنهان ........ ۴
- موقعیت جغرافیایی و سیاست خارجی ........ ۵
- پاکستان و همکاری در پروسۀ صلح افغانستان ........ ٦
- مقامات جدید افغان در بازی با پاکستان تازه کار اند! ........ ٦

**په پاکستان کې د افغان کډوالو ناسم وضعیت**

- پاکستان ته د افغانانو د کډوالۍ پړاوونه ........ ۸
- د کډوالۍ د بهیر لاملونه ........ ۹
- په پاکستان کې د افغان کډوالو شمېر ........ ۱۰
- په ۲۰۱۵ کال کې راستانه شوي کډوال او دلته يې وضعيت ........ ۱۱
- د کډوالو د راستنېدو په اړه د افغان حکومت دریځ ........ ۱۳

## مقدمه

د نوي حکومت له جوړېدو سره د افغانستان په بهرني سياست کې هم بدلون ترسترګو شو او ولسمشر غني په تېره بيا پاکستان او چين ته خپله پاملرنه خورا زياته کړه. ولسمشر غني پاکستان ته د سفر پر مهال، د سولې په بهير کې د مثبت رول لوبولو په هيله، دغه هېواد ته ځينې امتيازات هم ورکړل او همدا راز پاکستاني چارواکو هم څو ځله افغانستان ته  سفرونه وکړل.

د دې ترڅنګ ولسمشر خپل لومړنی رسمي سفر چين ته درلود، چې له چين سره د اړيکو ښه کولو يوه انګيزه هم، له پاکستان سره د چين ستراتېژيکه ملګرتيا او پر پاکستان يې زيات نفوذ بلل کېږي؛ خو د دې ترڅنګ په بهرني سياست کې د توازن ساتلو ته ډېره پاملرنه ونه شوه. له همدې امله له هند سره هم ځينې اندېښنې راټوکېدلې دي او په افغانستان کې د هند لخوا، له ځينې تمويل شوو پروژو سره، د هند مرستې بندې شوې دي. اوسمهال دا پوښتنه مطرح ده، چې له پاکستان سره د افغان حکومت نژدې کېدونکې اړيکې به د سولې پر بهير او همدا راز له هند سره پر اړيکو څه اغېز وښندي؟

له بله پلوه، له څه مودې راهيسې په پاکستان کې مېشت افغان کډوال هم له ګڼو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، چې له همدې امله لسګونه زره افغانان په سړه ژمي کې هېواد ته راستانه شوي او دلته هم له خراب وضعيت سره مخ دي. پوښتنه دا ده، چې په پاکستان کې لاهم څومره افغان کډوال مېشت دي او څومره يې د وروستيو ګډوډيو له کبله هېواد ته راستانه شوي؟ دغه راز د افغان کډوالو د ستونزو له منځه وړلو لپاره کومو اقداماتو ته اړتيا ده؟

د اوونۍ تحليل په دې ګڼه کې، پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز، د څېړنيزې څانګې شننې لولئ.

# قمار در عرصهٔ سیاست خارجی!



به نظر می‌رسد که حکومت وحدت ملی در سیاست خارجی خویش راه متفاوت از حکومت سلف خود را در پیش گرفته است. تغییر این سیاست مبتنی بر این اصل است که تامین صلح و امنیت در صدر اولویت‌های کاری این حکومت قرار دارد و تا صلح و امنیت در افغانستان برقرار نگردد، هیچ کاری نتیجهٔ مثبت نخواهد داد.

رئیس جمهور غنی به این باور است که پاکستان طالبان را رهبری می‌کند و اگر بتوانیم اعتماد پاکستان را جلب نموده و با این کشور به توافق برسیم، مشکل طالبان حل شده جنگ به پایان می‌رسد و افغانستان به صلح و ثبات دست خواهد یافت. او با همین تصور به پاکستان رفت و نیز با توجه به اینکه چین دوست نزدیک پاکستان است، در سفر به بیجنگ از مقامات چینی تقاضا نمود تا در پروسهٔ صلح افغانستان همکاری نمایند.

از جانب دیگر با توجه به حساسیت موجود در روابط میان دهلی و اسلام آباد، اشرف غنی روابط گرم با هندوستان را که در زمان ریاست جمهوری حامدکرزی پایه‌گذاری شده بود، مطابق به خواست پاکستان مورد بازنگری قرار داد. این تغییر سیاست موجب شده تا هندوستان نیز که در طول سیزده سال گذشته حدود دو ملیارد دالر به افغانستان کمک اقتصادی نموده بود در همکاری‌های اقتصادی خود با افغانستان تجدید نظر نماید. به این ترتیب ادامهٔ کمک به بسیاری از پروژه‌های تمویل شده از جانب هند متوقف شده است.

ACKU

## رئیس جمهور غنی و بازنگری در سیاست خارجی:

رئیس جمهور اشرف غنی در کنفرانس "قلب آسیا" در بیجنگ، در مورد سیاست خارجی حکومت وحدت ملی چنین گفت:

«از دید جغرافیایی، افغانستان در قلب آسیا قرار گرفته و تاریخ، این سرزمین را به نقطه اصلی تقاطع میان قدرت‌ها و افکار رقیب، مبدل ساخته است. بنابرین سیاست خارجی برای ما به طور ذاتی با سیاست داخلی پیوند دارد. با درک اینکه ما در محل تقاطع پنج حلقه روابط بین الملل قرار داریم، بناء هدف ما باید ایجاد بستر مساعد برای همکاری بین این دولت‌ها، سازمان‌ها، قدرت‌ها و شبکه‌ها باشد. در سیاست خارجی ما، شش کشور همسایهٔ ما، نخستین حلقه به شمار می‌روند. جهان اسلام دومین حلقه محسوب می‌شود. امریکای شمالی، اروپا، جاپان، آسترالیا و کشورهای عضو ناتو و آیساف، سومین حلقه به شمار می‌روند. آسیا که در حال مبدل شدن به اقتصاد قاره‌ای است، چهارمین حلقه محسوب می‌شود و سازمان‌های بین‌المللی انکشافی، سازمان ملل متحد، شرکت‌های چندین ملیتی، جامعهٔ مدنی بین الملل و سایر سازمان‌های غیرحکومتی، پنجمین حلقه به شمار می‌روند».

هرچند رئیس جمهور غنی در اولویت بندی این حلقه‌ها و بستر سازی در همکاری میان دولت‌ها، روابط تاریخی با قدرت‌ها و افکار رقیب را مهم دانسته است، اما در ایجاد تعادل میان منافعی که این کشورها در افغانستان برای خود تعریف می‌کنند، توجهی نداشته است. پس بی‌جا نیست که در عکس العمل به این اعلام سیاست خارجی از جانب رئیس جمهور افغانستان، سیاستمداران پاکستانی از آن استقبال کردند و روزنامه‌های پاکستانی نوشتند که پاکستان در سیاست خارجی حکومت وحدت ملی افغانستان در حلقه‌های اول و دوم قرار دارد، زیرا هم کشور همسایه و هم مسلمان است، اما رقیب ما هندوستان به حلقهٔ چهارم تنازل نموده است. بنابراین هندوستان علی الرغم کمک‌های سخاوتمندانه‌اش در طول سیزده سال گذشته به افغانستان، اکنون باید در میدان افغانستان، عقب نشینی در برابر پاکستان را بپذیرد.

## دیپلوماسی پنهان:

رئیس جمهور غنی در سفر به پاکستان، با مقامات این کشور در پشت درهای بسته، به توافقاتی دست یافته که جزئیات آن تاهنوز اعلام نشده است، اما به نظر می‌رسد که زیر پردهٔ همکاری مشترک علیه تروریسم، یک سلسله امتیازات به پاکستان داده شده است از جمله سپردن کسانی به جانب پاکستان که اسلام آباد آن‌ها را دشمن خود می‌داند و این افراد در افغانستان پناه گرفته‌اند.

ACKU

از جانب دیگر در زمستان امسال، رهبری طالبان افغان به فرماندهان خود دستور داد تا مناطق خود را ترک نکنند و به پاکستان نروند. به نظر می‌رسد که طبق این توافق پنهان، پاکستان نیز پذیرفته است تا تعدادی از فرماندهان طالبان را دستگیر نموده و به حکومت افغانستان بسپارد و طالبان نیز که از این توافق آگاه شدند، از رفتن به پاکستان خودداری ورزیدند.

حکومت پاکستان و افغانستان توافق کرده‌اند تا مساعی لازم را برای ایجاد دو دستگی در صف طالبان تشدید نمایند. برای این کار، پاکستان تلاش دارد تا تعدادی از فرماندهان سابق طالبان افغان را که از جنگ دست کشیده‌اند ترغیب به فعالیت مستقلانه نمایند که یکی از آن‌ها ملامنصور داداالله بود. مقامات پاکستانی سه بار به خانهٔ وی در ژوب وزیرستان رفتند که او در این منطقه در میان قوم خود «کاکر» زندگی می‌کرد. ملامنصور که سال‌ها را در زندان پاکستان سپری کرده بود، این خواست آن‌ها را رد کرد، اما در اثر این فشار مجبور شد تا پاکستان را ترک نموده و به افغانستان بیاید.

پاکستان و افغانستان به این تصمیم مشترک رسیده‌اند که دفتر طالبان در قطر، محل مناسب برای مذاکره نیست و باید این دفتر به جای دیگری منتقل گردد.

## موقعیت جغرافیایی و سیاست خارجی:

اشرف غنی در اعلام سیاست خارجی جدید افغانستان، تاکید بر این دارد که «چون این پیچیده‌گی، زاده تاریخ است بنابرین ما هیچ راه دیگری جز اینکه آنرا درک کنیم، نداریم و باید آنرا بگونهٔ اصولی اما عملگرایانه رهبری و مدیریت کنیم...».

اشرف غنی درست می‌گوید که تحولات تاریخی جبرهایی را بر ما تحمیل نموده و ما را نیازمند همسایگان ما ساخته است. نیاز به راه ترانزیتی ما را چنان وابسته به همسایه‌های ما ساخته که اگر این راه‌ها برای مدت کوتاهی هم بسته شود، افغانستان به بحران شدید اقتصادی مواجه خواهد شد. اما تلاش حکومت حامدکرزی برای نجات از این وابستگی، از طریق جلب همکاری کشورهای ایران و هند برای یافتن راه بدیل ترانزیتی از طریق بندر چاه بهار در ایران امیدهای زیادی را برانگیخت و این راه باید پیموده می‌شد، اما در سیاست خارجی جدید اعلام شده از جانب رئیس جمهور غنی، این راه بدیل متروک شد زیرا جانب هند نیز با توجه به اعلام سیاست جدید خارجی از جانب افغانستان، به ایران اطلاع داد که از سرمایه‌گذاری مزید در این بندر دست برداشته است.



ACKU

## پاکستان و همکاری در پروسهٔ صلح افغانستان:

اشرف غنی از پاکستان تقاضا دارد تا افغانستان را در پروسهٔ صلح یاری نماید. این خواست برخاسته از این باور است که پاکستان می‌تواند طالبان را به مذاکرات صلح با دولت افغانستان وادار سازد.

میزان نفوذ پاکستان بر طالبان در پردهٔ ابهام پنهان است و با توجه به این حقیقت که طالبان پاکستانی که گفته می‌شد توسط "آی اس آی" رهبری می‌شوند از کنترول پاکستان خارج شده‌اند، نمی‌توان به این نفوذ بر طالبان افغان زیاد مطمئن بود، مخصوصا این سوال مطرح است که اگر پاکستان بر طالبان افغان نفوذ داشت، پس چرا مانع از به میان آمدن دفتر قطر نشد.

اما پاکستانی‌ها این مهارت را داشته‌اند تا تبلیغات رسانه‌ای را که بیشتر ناشی از بدبینی نسبت به پاکستان است، به عنوان یک حقیقت بخورد سیاستمداران افغان بدهند و با نشان دادن خود به عنوان قیم طالبان، سیاست خارجی افغانستان را به نفع خود سمت‌وسو بدهند.

## مقامات جدید افغان در بازی با پاکستان تازه کار اند!

هم رئیس جمهور غنی و هم مشاور امنیت ملی اش محمد حنیف اتمر در گذشته به خصوص در دوران جهاد با پاکستانی‌ها رابطه‌ای نداشته‌اند. اشرف غنی در امریکا زندگی می‌کرد و اتمر نیز با موسسات خارجی در پیشاور مصروف کار بود. آن‌ها شناخت دقیقی از پاکستان ندارند و این مسئله موجب شده تا معاملهٔ آنان با پاکستان، شکل یک قمار خطرناک را به خود بگیرد.

با توجه به این حقیقت که خواست پاکستان از افغانستان فقط در تجدید نظر در روابط با هند خلاصه نمی‌شود، امیدواری به اینکه تاثیر مثبتی از این تغییر در سیاست بدست آید، اندک است. خیلی‌ها به این باور اند که سیاست پاکستان در مورد افغانستان تغییری نکرده و پاکستان فقط در شیوهٔ بازی، تغییر وارد کرده است.

ACKU

# په پاکستان کې د افغان کډوالو ناسم وضعیت



په دې وروستیو کې په پاکستان کې افغان کډوال له ګڼو ستونزو سره مخ دي، چې په اړه یې لاهم افغان حکومت کوم د پام وړ ګام نه دی اوچت کړی. که څه هم افغان حکومت د کډوالو راستنول له خپلو لومړیتوبونو څخه بولي؛ خو د کډوالو چارو د نوي وزیر عالمي بلخي په وینا، افغان حکومت په عاجل ډول د افغان کډوالو د راستنولو لپاره چمتو نه دی.

اوس په پاکستان کې د افغان کډوالو موضوع د دوو لاملونو له کبله راګرمه شوې ده:

1. د ۲۰۱۵ کال تر پایه د قانوني افغانانو (چې د پاکستان له حکومت سره راجستر دي) د کارډونو د ختمېدو نېټه.
2. د پېښور وروستۍ خونړۍ پېښه.

له پاکستانه د افغان کډوالو د ایستلو موضوع، په پېښور کې پر یوه پوځي ښوونځي د برید له پېښې وروسته یو ځل بیا راګرمه شوه. پاکستان د دغه برید په غبرګون کې د مذهبي بنسټپالو پرخلاف خپله پالیسي یو څه بدله کړه او د پاکستان لومړي وزیر نوازشریف د سخت دریځو پر وړاندې خپله تګلاره په ۲۱ ټکو کې بیان کړه، چې یو یې هم د افغان کډوالو د بېرته ستنولو موضوع وه.

## پاکستان ته د افغانانو د کډوالۍ پړاوونه:

افغانانو په تېرو څو لسیزو کې، په هېواد کې د پرله پسې جګړو له کبله، نورو هېوادونو ته مخه کړه او پاکستان ته یې د کډوالۍ لړۍ له ۱۹۷۳ کال وروسته پیل شوه، چې په لنډه توګه یې په لاندې پړاوونو وېشلی شو:

**لومړۍ لړۍ:** پاکستان ته د افغان کډوالو لومړی پړاو د اسلامي نهضت د ۱۳۵۴ کال له عملیاتو مخکې پېل شو، هغه مهال تقریباً ۳۰۰ کسان پاکستان ته کډوال شول.

**دویمه لړۍ:** د ثور له انقلاب سره د کډوالۍ دغه لړۍ ګړندۍ شوه او په پاکستان کې د افغان کډوالو شمېر، په ۱۹۷۸ کال کې ۸۰۰۰۰ اتیا زره تنو ته ورسېد او بیا په ۱۹۷۹ کال کې، په پاکستان کې د افغان کډوالو شمېر ۴۰۰۰۰۰ څلور لکه تنو ته ورسېد.[1]

**دریمه لړۍ:** د شورویانو د یرغل پر مهال (۱۹۷۹-۱۹۸۹) په پاکستان کې تقریباً له دریو ملیونو څخه زیات افغان کډوال مېشت شول.

**څلورمه لړۍ**: که څه هم د شورویانو له وتلو سره یو شمېر افغانان بېرته خپل هېواد ته راستانه شول؛ خو د کورنیو جګړو له پیلېدو سره افغان کډوالو یو ځل بیا د پاکستان په لور مخه کړه.

**پنځمه لړۍ:** د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱ له پېښې وروسته، د امریکایي ځواکونو د بریدونو له کبله یو شمېر افغانان بیا اړ شول، چې د افغانستان خاوره پرېږدي او په پاکستان کې پناه واخلي. خو کله چې د بُن له کنفرانس وروسته په کابل کې د یوه لنډمهالي نظام بنسټ کېښودل شو، نو تقریباً ۳.۲ ملیونه افغانان له پاکستان او ایران څخه بېرته خپل هېواد ته راوګرځېدل.[2]

په ۲۰۰۷ کال کې د UNHCR په مرسته، په پاکستان کې د افغان کډوالو راجسټرېشن پیل شو، چې له مخې یې ۱.۷ ملیونه افغانان راجستر شول او د پاکستان د حکومت له خوا د (افغان ښاري) په نوم کارډونه ورکړل شول. دا کارډونه بیا په ۲۰۱۰ کال، ۲۰۱۲ کال او ۲۰۱۴ کال کې بیا نوي شول، چې د اوسنیو کارډونو وخت

---

[1] UNHCRA, A/AC.96/577-14 August 1980, 31st Session Executive Committee, Report on UNHCR Assistance Activities in 1979-1980 and Proposed Voluntary Funds Programmes and Budget for 1981, par. 602, p. 175.

[2] UNHCR, Afghan Refugee Statistics, February 2005

ACKU

هم د روان (۲۰۱۵) کال په پای کې کې ختمېږي. همدې موضوع په پاکستان کې دا بحثونه راپورته کړي، چې دا ځل دې د افغانانو کډ دونه نه تمدیدېږي، بلکې بېرته دې خپل هېواد ته ستانه شي.

## د کډوالۍ د بهیر لاملونه:

د کډوالۍ بهیر او په بل ځای کې مېشتېدل یا پناه اخیستل عموماً دوه لاملونه لري:

1. د کړکېچونو یا جګړو له کبله.
2. د طبیعي آفاتو له کبله.

که معاصر سیاسي تاریخ ته ځیر شو، نو په هغو سیمو کې چې کړکېچونه پکې زیات دي، په تېره بیا اسلامي نړۍ کې، کډوالۍ او بې ځایه کېدل ورځ تر بلې زیاتېږي.

همدا راز د کډوالیو بهیر (Push Factors) یا داخلي عوامل لري او یا هم (Pull Factors) یا بهرني عوامل لري، چې د افغانستان د کډوالۍ بهیر ډېری دننني یا Push Factors لاملونه درلودل. دا هغه لاملونه وو، چې افغانان په هېواد کې دننه دې ته اړ شول، چې خپل هېواد پرېږدي. دا لاملونه په لاندې ډول دي:

- د ثور کودتا؛
- د شورویانو لس کلن اشغال؛
- سیاسي ناارامۍ او کورنۍ جګړې.

خو دا چې افغان کډوال اوسمهال ولې بېرته خپل هېواد ته راستنېدو ته زړه نه ښه کوي، ځینې لاملونه یې په لاندې ډول دي:

1. په افغانستان کې ناامني او بې ثباتي؛
2. په نورو هېوادونو کې د زده کړو زمینې؛
3. په نورو هېوادونو کې د ژوند سهولتونه؛
4. هلته د دوی سوداګریز کاروبار؛
5. په افغانستان کې د ډېری کډوالو د کورونو نشتوالی؛
6. په افغانستان کې ګراني او وزګارتیا؛
7. د بهرنیو ځواکونو په شتون کې د هغوی ژوند ته ګواښونه او نور.

## په پاکستان کې د افغان کډوالو شمېر:

افغان کډوال تر ټولو زیات په خیبر پښتونخوا ایالت کې مېشت دي، چې شمېر یې له یو ملیون تنو اوړي. همدا ډول افغان کډوال په ترتیب سره بیا په بلوچستان، پنجاب، سند، اسلام آباد او آزاد کشمیر کې مېشت دي. (د لازیاتو معلوماتو لپاره لاندې جدول وګورئ):

| ایالت | کورنۍ | افراد | په کمپونو کې | له کمپونو بیرون |
|---|---|---|---|---|
| خیبر پښتونخوا | 180516 کورنۍ | 1086185 تنه | 546827 تنه | 539358 تنه |
| بلوچستان | 52716 کورنۍ | 367225 تنه | 89384 تنه | 267841 تنه |
| سند | 13369 کورنۍ | 74424 تنه | - | 74424 تنه |
| پنجاب | 31496 کورنۍ | 192020 تنه | 15215 تنه | 176805 تنه |
| اسلام آباد | 6754 کورنۍ | 35563 تنه | - | 35563 تنه |
| آزاد کشمیر | 1224 کورنۍ | 7116 تنه | - | 7116 تنه |
| **ټول** | **286075 کورنۍ** | **1752533 تنه** | **651426 تنه** | **1101107 تنه** |

د پاکستان په ایالتونو کې د افغان کډوالو وېشنه. وګورئ د UNHCR Pakistan وېبپاڼه[3]

افغان کډوال پاکستان ته ډېری له هغو سیمو کډه شوي، چې تر ډېره جنګځپلي ولایتونه ورته ویلی شو؛ لکه ننګرهار، کونړ، لوګر، پکتیا، لغمان، کندهار او هلمند. (د زیاتو معلوماتو لپاره لاندې جدول وګورئ)

| ننګرهار | کندوز | کابل | لوګر | بغلان | پکتیا | لغمان | کونړ | کندهار | هلمند |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 311606 | 199842 | 193433 | 141921 | 123298 | 122763 | 101402 | 97809 | 85187 | 49766 |
| **ټول** | **1427027 تنه** | | | | | | | | |

وګورئ د UNHCR Pakistan وېبپاڼه[4]

[3] http://unhcrpk.org/wp-content/uploads/2012/04/Registered-Afghan-Population-in-Pakistan.pdf

## په ۲۰۱۵ کال کې راستانه شوي کډوال او دلته يې وضعيت:

که څه هم د پاکستان حکومت اعلان کړی، چې دوی به هغه افغان کډوال، چې راجستر شوي وي او (افغان ښاري) کارډونه ولري، د ۲۰۱۵ کال تر پايه له پاکستانه ونه باسي[5]؛ خو راجستر شوي افغان کډوال د پاکستاني پوليسو له خوا ځورول کېږي او په غير مستقيم ډول اړايستل کېږي، چې له پاکستانه ووځي او له ټولو ستونزو سره سره د ژمي په سړو ورځو کې هېواد ته راستانه شي.[6] له همدې امله يو زيات شمېر راجستېر شوي افغان کډوال هم د کال له پيله افغانستان ته راستانه شوي دي.

دا چې د ۲۰۱۵ کال له پيل راهيسې څومره راجستر شوي افغان کډوال هېواد ته راستانه شوي؟ تراوسه يې کره شمېره څکه نامعلومه ده، چې هېڅ کومې رسمي ادارې په دې اړه کومه څېړنه نه ده خپره کړې؛ مګر د ناقانونه کډوالو د راتګ په اړه ځينې څېړنې شوې دي.

### ناراجستر کډوال:

د IOM يا (International organisations for migration) د تازه سروې له مخې، د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ مياشتې له لومړۍ نېټې څخه نيولې بيا د فبرورۍ مياشتې تر ۱۴مې نېټې پورې تقريباً ۳۵۸۸۹ ناراجستر افغان کډوال افغانستان ته د پاکستان د بدلېدونکو حالاتو او پرېکړو له کبله راګرځېدلي دي. د دغو کډوالو ډېره

[4]http://unhcrpk.org/wp-content/uploads/2012/04/Afghan-Population-by-Province-of-Origin-in-Afghanistan.pdf

[5] DailyTimes, Afghan refugees can legally stay in Pakistan Until end of 2015, see it online:
<http://www.dailytimes.com.pk/national/24-Dec-2014/afghan-refugees-can-legally-stay-in-pakistan-until-end-of-2015>

[6] . افغان کډوال د پاکستاني پوليسو له خوا له قانوني اسنادو سره سره، بيا هم نيول کېږي، په کورونو يې چاپې وهل کېږي او داسې نور.
ولولئ د آزادي راديو راپور:
په پاکستان کې افغان کډوال د قانوني اسنادو په لرلو هم زورول کېږي، ۱۳۹۳/۱۱/۸ - پرليکه بڼه:
http://pa.azadiradio.org/content/article/26817250.html
ولولئ په دې اړه دويم راپور:
«افغان کډوال: پوليس مو سره له اسنادو له کورونو وباسي»، ۳۰، ۱۰، ۱۳۹۳ - پرليکه بڼه:
http://pa.azadiradio.org/content/article/26802988.html

ACKU

برخه (۳٦سلنه) په ننگرهار (په تېره بیا جلال آباد ښار) کې مېشت شوي او نور بیا په ترتیب سره کونړ، لغمان او کابل ته تللي دي. دغه شمېره د ټول ۲۰۱۴ کال له ارقامو څخه هم زیاته ده. په ۲۰۱۴ کال کې تقریباً ۲۱٦۹۲ کسان افغانستان ته راستانه شوي وو او ۳۷۵۴ کسان بیا د پاکستان له خوا په اجباري ډول ایستل شوي وو؛ خو اوس یوازې په دغو دوو میاشتو کې تقریباً ۲۲۰۴ کسان له پاکستانه راایستل شوي او له ۳۲ زره څخه زیات کډوال په خپله خوښه راستانه شوي دي.

د دغو کډوالو نیمایي برخه یې په کرایي کورنو کې مېشت دي او ترڅنگ یې ډېری د خپلو ماشومانو د زده کړو په اړه هم اندېښمن دي. همدا راز دا کډوال د کاروبار د بیا پیلولو په اړه هم اندېښنې لري[7]، هغه هم بیا په داسې حال کې چې په افغانستان کې د دوی له راتگ څخه وړاندې ۳٦ سلنه وزگارتیا ده.

**د تورخم بندر له لارې راغلي ناراجستر افغان کډوال:**

| نېټه | په خپله خوښه | اخراج شوي | ټول |
|---|---|---|---|
| **۲۰۱۵ کال- جنوري** | ۲۲۳۰۹ | ۱۴۷۲ | ۲۳۷۸۱ |
| **فبروري (۱-۷)** | ٦۴۷۳ | ۳۴۵ | ٦۸۱۸ |
| **فبروري (۸-۱۴)** | ۴۹۰۳ | ۳۸۷ | ۵۲۹۰ |
| **ټول** | **۳۳٦۸۵ تنه** | **۲۲۰۴ تنه** | **۳۵۸۸۹ تنه** |

Return of undocumented Afghans from Pakistan (Update as of 16 February 2015) by International Organisations of Migration, Kabul.

[7] International Organisations of Migration, Return of undocumented Afghans from Pakistan (Update as of 16 February 2015) See it online:
http://afghanistan.iom.int/wp-content/uploads/2015/02/Return-of-Undocumented-Afghans-from-Pakistan-16-Feb-2015.pdf

ACKU

**ورځنۍ اوسط (ناراجستېر کډوال): ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵**

| د راتګ ډول | ۲۰۱۴ | ۲۰۱۵ | د دواړو کلونو مقایسه |
|---|---|---|---|
| **په خپله خوښه** | ۵۹/ورځ | ۷۴۹/ورځ | ۱۳ برابره زیاتوالی |
| **اخراج شوي** | ۱۰/ورځ | ۴۹/ورځ | ۵ برابره زیاتوالی |

Return of undocumented Afghans from Pakistan (Update as of 16 February 2015) by International Organisations of Migration, Kabul.

## د کډوالو د راستنېدو په اړه د افغان حکومت دریځ:

افغان کډوال د افغان ملت یوه مهمه برخه جوړوي، له دغو کډوالو پرته نه یوازې دا چې د افغانستان د ملت جوړښت ناقص دی، بلکې په دغو کډوالو کې ډېری یې زده کړیال، کسبیان، سوداګر او تحصیل یافته کسان هم شته دي، چې د دوی بیا راستنېدل به د هېواد په پرمختګ هم مثبت اغېز ولري؛ مګر اوسمهال افغانستان له اقتصادي پلوه دې ته چمتو نه دی چې له پاکستان، ایران او نورو هېوادونو څخه په لوړه کچه افغان کډوال ومني. په همدې تړاو د افغانستان ولسمشر، مشرانو جرګې ته په وینا کې وویل، چې افغان مهاجرین د افغانستان د ملت یوه برخه جوړوي او د مهاجرینو بېرته نه راګرځېدل به افغان ملت ناقص کړي[8].

د ملي وحدت حکومت اجرایوي رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله رسنیو ته ویلي، چې په پاکستان کې مېشتو افغان کډوالو په اړه به ډېر ژر تصمیم ونیول شي او په دې تړاو به یو پلاوی پاکستان ته د خبرو اترو لپاره واستول شي[9].
د کډوالو چارو نوي وزیر عالمي بلخي هم په یوه مرکه کې د افغان کډوالو بېرته راستنېدل د حکومت لومړیتوب وباله او ترخنګ یې زیاته کړه: "د افغانستان د حکومت هیله دا ده، چې د پاکستان حکومت د افغان کډوالو اجباري ایستل ودروي او د دغو کډوالو راستنېدل په تدریجي ډول سره او په داسې ډول صورت ونیسي، چې د افغانستان دولت هم د هغوی منلو او آبرومندانه ځای پر ځای کولو ته چمتووالی ولري."

ACKU

---

[8] http://morr.gov.af/fa/news/41816

[9] http://www.khaama.com/persian/archives/22956 and Muhammad Hasan Khetab, Abdullah Concerned about refugees in Pakistan, pajhwok news, feb 16, 2015. See it online: <http://www.pajhwok.com/en/2015/02/16/abdullah-concerned-about-refugees-pakistan>

که په لنډه توګه ووایو، افغان حکومت غواړي چې د مهاجرینو بېرته راستنېدل په لاندې ډول ترسره شي:

1. پاکستان د کډوالو اجباري ایستل بند کړي؛
2. د افغان کډوالو ستنېدل په تدریجي ډول مخته ولاړ شي؛
3. د افغان کډوالو راستنېدل په داسې شکل سره وي، چې د افغانستان دولت چمتووالی ورته ولري او په عزت سره یې دلته ځای پر ځای کړي.

همدا راز افغان لوری تمه لري، چې د کډوالو د کډونو موده وغځول شي، ځکه افغان دولت په دې اړه وخت ته اړتیا لري او په سملاسي ډول دې ته چمتو نه دی، چې د دومره لوړ شمېر افغانانو د راستنېدلو جوګه شي.[10]

پای

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل:info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)

ACKU

[10] د افغانستان د کډوالو وزارت سکرتریت کې، د وزیر له سکرتر سره مرکه.